## بسم الله الرحمن الرحیم

# د خلافت دولت د ۹۹ تلین په مناسبت د حزب التحریر د امیر محترم شیخ عطا ابن خلیل ابو رشته پیغام

## (ژباړه)

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد:

په عامه توګه اسلامي امت ته چې الله سبحانه وتعالی تر ټولو ښه امت ګرځولی، په ځانګړې توګه د حزب التحریر ځوانانو ته چې صادقانه او مخلصانه اسلامي دعوت لېږدوي او الله تعالی عزت ورکړی دی، دغه راز د دې پاڼې ټولو هغو درنو لوستونکو ته چې په ډېر شوق یې لولي، اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

۹۹ کاله مخکې په دغه ورځ د هغه وخت جنایت کوونکي (مصطفی کمال) خلافت لغوه اعلان کړ. که څه هم دا ښکاره او ثابته وه چې د خلافت له منځه وړل ښکاره کفر او د اسلام حاکمیت له منځه وړل دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیث سره سم، چې بخاري او مسلم روایت کړی وایي؛ باید د خلافت له منځه وړونکي سره مخامخ جګړه وشي. جناده ابن ابي امیه وایي: موږ په داسې حال کې عباده ابن صامت ولید چې هغه ناروغ و او ورته ومو ویل: الله تعالی دې شفا درکړي، موږ ته له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسې حدیث ووایه، چې الله سبحانه وتعالی له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د هغه په اورېدو، تاته ګټه کړې وي. عباده ابن صامت وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم له موږ څخه وغوښتل چې بیعت ورسره وکړو او موږ هم ورسره وکړ. په دغو برخو کې یې له موږ څخه بیعت واخیست:

**«أنْ بَايَعَنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا، وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا، وَأَثَرَةً عَلَيْنَا، وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ»**

*ژباړه: په سختۍ او اسانۍ، په غم او ښادۍ او نظر نورو ته موږ ته په لومړیتوب له موږ سره بیعت وکړئ. دغه راز له فرمان ورکوونکو سره تره هغه وخته جنجال ونه کړئ، تر څو مو چې ښکاره کفر نه وي پکې لیدلی، چې د الله تعالی پر وړاندې یې دلیل وګرځوئ.*

نو واجب هغه وه، چې له مصطفی کمال سره د خلافت د سقوط پر مهال وسله واله جګړه شوې وای. قرباني ورکړل شوې وای، که په لوړ قیمت هم تمامېدای. خو هغه طاغوت چې د کومې جزا لایق و هغه جزا یې ونه لیده. له هغه وخته وروسته د بهترین امت تاریخ پیکه شو، چې د انسانیت د دعوت لپاره راوتلی و. هغه امت چې یو وخت یې د خلافت دولت درلود، چې د حق او عدالت په برخه کې ټوله نړۍ ترې وېرېده. خو اوس له پنځوسو زیاتې برخې شوی او هر یو یې د خپلې برخې لپاره له بلې برخې سره دښمني کوي. پر ټولو داسې بې رحمه واکمنان حاکم شوي چې پر هغوی رحم نه کوي. یوازې دا نه ده، بلکې چارې یې د استعمار او کفارو اجیرانو حکامو ته سپارلې دي. دغه راز شتمنی یې د الله تعالی د دین د دښمنانو اقتصادي څرخ ګرځولي.

په داسې حال کې چې د دې ځمکو او د خلکو شتمني غلا شوې او اقتصاد یې ړنګ دی او د دې ځمکو خلک ترې ګټه نشي اخیستی او حالت یې داسې دی چې «د یوه اوښ پر شا په وچه دښته کې اوبه بار وي او له تږې له منځه لاړ شي.» دا هم د دې احمقانو تر مخه واقع کیږي. او بې وزلي له حکامو او د هغوی شاوخوا خلکو پرته ټول خلک نیولي. دا هغه حکام دي چې د خپلو کړنو ګټه په ذلت او خوارۍ له خپلو بادارانو څخه اخلي او په دې کار سره له الله سبحانه و تعالی او پیغمبر سره یې خیانت کوي او هڅه کوي چې خلک د الله سبحانه و تعالی له لارې منحرف کړي.

**ای مسلمانانو!** خلافت د مسلمانانو سرنوشت ټاکونکې مسئله ده؛ له دې لارې حدود پلې کیږي، حرمت ساتل کیږي، د فتوحاتو زمینه برابریږي او اسلام او مسلمانان په پټ او عزت سره اوسیږي. دا ټول د غالب او باحکمت الله په کتاب، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت او د صحابه وو په اجماع کې راغلي. او بسونکې ده چې مسلمانان د دې دریو چارو په هکله فکر وکړي څو پوه شي چې خلافت څومره لویه فریضه ده:

**لومړی**: دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده چې طبراني په معجم الکبیر کې له عاصم او ابو صالح او هغوی له معاویه رضی الله عنه څخه روایت کړی چې ویې ویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې ویې ویل:

**«وَمَن مَاتَ وَليسَ في عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

*ژباړه: هر څوک په داسې حال کې ومري چې له چا سره بيعت ونلري د جاهليت پر مړينه مړ شوی.*

او دا د مسلمان د ګناه پر عظمت دلالت کوي چې په داسې حال کې له خليفه سره د بيعت کولو لپاره کار نکوي چې وس يې لري. نو پر دې دليل دی چې بايد حتما خليفه شتون ولري او له هغه سره بيعت وشي.

**دويم:** د پيغمبر صلی الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته صحابه کرام رضی الله عنه پر دې بوخت شول چې خليفه وټاکي په داسې حال کې چې د ميت خاورو ته د سپارلو لپاره عجله په نصوصو کې ډېره ياده شوې ده. په معرفه السنن و الاثار کې بيهقي ويلي: «شافعي له ابو سعيد څخه روايت کړی: تر ټولو غوره عجله د ميت خاورو ته سپارل دي، کله يې چې مړينه تثبيت شي.» دا د هر ميت په هکله ده او حتی که رسول الله صلی الله عليه وسلم ميت وي. نو صحابه کرام رضی الله عنه د پيغمبر پر جنازه هم د خليفه ټاکل مقدم وګڼل. دا په دې دلالت کوي چې صحابه کرام رضی الله عنه د خلافت په اقامه کولو اجماع لري چې د رسول الله خاورو ته سپارل يې وځنډول او د خليفه پر ټاکلو بوخت شول.

**درېيم:** عمر رضی الله عنه د خپل وفات پر ورځ د خليفه د ټاکلو لپاره شپږ هغه کسان وټاکل چې د جنت زېری ورکړل شوی و او درې ورځې يې وخت ورکړ او وصيت يې وکړ چې که تر درېيو ورځو يې د خليفه پر ټاکلو هوکړه ونکړه نو له درېيمې ورځې وروسته دې مخالف کس ووژل شي او پنځوس کسان يې دې کار ته وګومارل. حال دا چې هغوی ته د جنت بشارت ورکړل شوی و، حل و عقد شورا غړي او د صحابه وو کبار وو. او دا کار د صحابه وو تر مخ تر سره کېده. خو دا چې دا کار ناسم ګڼل شوی وي او يا يې چا مخالفت کړی وي کوم روايت نشته دی. نو دا هم دلالت کوي چې د مسلمانانو لپاره ناسمه ده چې له درېيو شپو او ورځو زيات وخت د خليفه په نشتون کې تېر کړي. خو نن پر موږ د «درېيو ډېرې ټولګې» تېرې شوې!! لا حول و لا قوه الا بالله. نو اې مسلمانانو خلافت ډېر لوی امر او د مسلمانانو سرنوشت ټاکونکې مسئله ده.

**اې مسلمانانو!** له دې ټولو سره سره موږ د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه نا هيلي نه يو:

**﴿إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾**[يوسف: 87]

**ژباړه:** له الله سبحانه و تعالی څخه له کافرانو پرته بل څوک ناهيلي کيږي نه.

ځکه چې د الله له رحمت څخه يوازې کافران ناهيلي دي. هغه هم په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی د ځمکې د خلافت هغو مومنينو ته وعده ورکړې چې صالح عمل تر سره کوي.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾**[نور: 55].

**ژباړه:** الله ستاسو له هغو کسانو سره چې ايمان راوړي او ښه عملونه وکړي، وعده کړې چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه چې له هغوی څخه مخکې تېر شوي خلک يې ګرځولي ول.

همداسې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د دکتاتورانو له حاکميت څخه وروسته، چې اوس موږ پکې اوسېږو، د نبوت پرمنهج د خلافت د راتګ وعده ورکړې: «**ثم تكون خلافة علد منهاج النبوة».** يعنې دا چې له هغې وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي. دا حديث احمد له نعمان بن بشير څخه روايت کړی.

خو هغه څه مو چې مخکې وويل بيا يې هم تکرار وايو او ټينګار کوو چې له شکه پرته الله قادر او غالب دی او که يې موږ د دين نصرت وکړو نو زموږ نصرت به وکړي. او هغه دا دی چې د دې امر له مخلصينو او صادقينو څخه وو. د الله سنت همدا دی چې له اسمان څخه ملايک رانښکته نشي چې زموږ پر استازيتوب د خلافت قايمېدو ته کار وکړي او موږ تکيه وکړو او يوازې ليدونکي وو. بلکې الله سبحانه و تعالی که وغواړي نو ملايکې به هم راواستوي که موږ په رښتيا سره کار وکړو. په هر نصرت او بريا کې د الله سبحانه و تعالی وعده همداسې ده. که هغه وعده د خلافت د راتګ په هکله وي او يا که د الله سبحانه و تعالی په لار کې د هرې جګړې په هکله وي.

او موږ د الله سبحانه و تعالی حمد او ستاينه کوو چې دې امت ته يې د حزب التحرير په رامنځته کېدو سره عزت ورکړ؛ هغه حزب چې خپل ځان يې د اسلامي ژوند او د خلافت رامنځته کولو ته وقف کړی دا حزب په رښتيا سره داسې رهبري ده چې

خپلو خلکو ته دروغ نه وايي. داسي حزب دی چي اصليت او ښه بوی يي ښکاره دی او هر هغه څوک يي چي د حس کولو وس نه لري له هغي لرې کيږي او غورځي. موږ دا حزب همداسي ګڼو او ټول شباب يي قاطع با عزم او فعاله مخلص خلک پيژنو، داسي خلک چي اخرت له دنيا څخه لوړ ګڼي او خپله شپه د الله رحمت ته او د هغه سبحانه و تعالى او د پيغمبر د وعدو تحقق په هيله سبا کوي او دا د الله سبحانه و تعالى لپاره ستونزمنه نه ده.

په پای کي، د خلافت تاسيس يوازې د حزب التحرير پر څوانانو نه، بلکي پر هر مسلمان چي د دغه امر وړتيا لري فرض دی. نو اې مسلمانانو زموږ ملاتړ وکړئ او اې مسلمانو پوځيانو موږ ته نصرت راکړئ او په دې سره د انصارو سيرت او نصرت راژوندی کړئ، کله چي يي د الله سبحانه و تعالى دين ته نصرت ورکړ؛ الله سبحانه و تعالى هغوی ته د مهاجرينو ورونه وويل، د هغوی ستاينه يي وکړه او په خپل سپيڅلي کتاب کي يي له هغوی څخه له کوم قيد پرته د رضايت اعلان وکړ؛ خو يو قيد يي کېښود او هغه قيد د پيروی او احسان و:

**﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾**[توبه: ١٠٠].

***ژباړه:*** *هغه مهاجرين او انصار چي تر ټولو د مخه د ايمان بلنې ته په لبيک ويلو کښې وړاندې شول، دغه راز* ***هغه*** *کسان چي وروسته له نېکۍ او رښتينولۍ سره په په هغو پسې راغلل؛ الله سبحانه و تعالى له هغوی څخه خوښ او دوی له الله سبحانه و تعالى څخه خوښ شول. الله سبحانه و تعالى د هغوی لپاره داسي باغونه (جنتونه) چمتو کړي دي، چي لاندې به يي ويالي بهيږي او هغوی به پکي د تل لپاره اوسيږي. همدا ډېر لوی برياليتوب دی.*

د الله سبحانه و تعالى له دين سره نصرت او د خلافت تاسيس د فضيلت او د اجر د لويوالي له امله و، چي حتی ملايکو د سعد ابن معاذ جنازه ولېږدوله، ځکه چي د الله سبحانه و تعالى له دين سره يي نصرت کړی و. لکه څرنګه چي حاکم په المستدرک على الصحيحين کي روايت کړی دی.

په پای کي، هر څوک چي د خلافت له تاسيس څخه وړاندې د تاسيس لپاره يي نصرت او فعاليت کوي؛ اجر يي څو ځله له هغه کس څخه زيات دی چي وروسته له تاسيس څخه يي نصرت او مرسته کوي.

**﴿لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾**[حديد: ١٠].

***ژباړه:*** *ستاسي څخه چي کوم کسان له فتحې (بريا) څخه وروسته مالي لګښت او جهاد وکړي، هغوی هېڅکله له هغو خلکو سره نه شي برابرېدلای چي له فتحې څخه مخکي يي مالي لګښت او جهاد کړی دی؛ د هغو درجه په وروسته وخت کي له مالي لګښت کوونکو او جهاد کوونکو څخه ډېره ستره ده؛ که څه هم الله سبحانه و تعالى له دې دواړو سره غوره ژمنه کړې ده. څه چي تاسو کوئ الله سبحانه و تعالى پرې خبر دی.*

او موږ له الله سبحانه و تعالى څخه عاجزانه غواړو چي (د خلافت د راپرځېدلو د ٩٩مي کليزې ياد) مخکي له دې چي ١٠٠مه کليزه يي ياد کړو د لوی نصرت زمينه وګرځي او بيا هغه راشده خلافت له سره پر نړۍ وځليږي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**[روم: 5].

***ژباړه:*** او په دغه ورځ (د روم په برلاسه کېدو) به مسلمانان د الله سبحانه و تعالى په ورکړل شوې بريا باندې خوشالي وکړي. الله سبحانه و تعالى د هر هغه چا سره مرسته کوي چي خوښه يي شي او هغه برلاسی او پوره رحم لرونکی دی.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسو ورور د حزب التحرير امير عطأ ابن خليل ابو الرشته

١٤٤١ هـ.ق کال، د رجب ٢٨مه

٢٠٢٠م کال، د مارچ ٢٣مه